# د حمزه بابا په شاعرۍ کښې پښتانهٔ قدرونه

# Pashtūn Values in the Poetry of Ḥamza Bābā

ډاکټر اباسین یوسفزے*

**Abstract**

Ameer Hamza Khan Shinwari is great literary figure in the Pashto literature of 20th century. Mainly he contributed to Pashto poetry and especially to Pashto ghazal (ode). He linked and connected the classical and traditional poetry with modern poetry. His contribution to Pashto Ghazal is recognized and praised by all the critics. One of the vivid portion and prominent feature of his poetry is the description of Pashtun culture, values, norms, customs and traditions. He has described all these cultural traits in an artistic manner. This research paper deals with different values and norms of Pashtun culture mentioned in his poetry.

**Keywords**: *Pashto Poetry; Pashtūnwalī; Literature; Pashtūn values.*

د نړۍ د هر یو قام او ملت خپل خپل ثقافت/کلتور او روایات وي. دغه رنګ د پښتون قام هم خپل یو ځانګړے ثقافت، دود دستور، قدرونه او روایات دي چې د "پښتونولۍ" په نامه بللے شي. دَ هر قام یو ثقافت وي دغه رنګ دَ پښتون قام هم یو ثقافت دے، قدرونه دي روایات دي چې دَ پښتونولۍ په نامه بللے شي. او دَ دې روایاتو لوئے خاصیت دا دے چې په زرګونو کاله تېرېدو باوجود دې خپل وجود او روح برقرار ساتلے دے او تر ننه چرته په پوره او چرته په نیمګړي شکل کښې زمونږ سره دغه قدرونه موجود دي. بله دا خبره هم زهٔ ښهٔ داډه کول غواړم چې نوې دنیا زمونږ دَ دغه قدرونو نه دَ ژوند ژواک ډېر چلونه هنرونه زده کړي او خپل کړي دي. دَ پښتونولۍ دَ ژوند ژواک یوه ننداره ګورو. په بنیادي توګه پښتونولي په درېو برخو یا مرحلو یا توکو کښې وېشو.

"(ا) خوئ خصلت (پښتانهٔ خویونه)

(ب) دود دستور (پښتانهٔ دودونه)

(ج) لاړې چارې (پښتون قانون)"[1]

د څېړنکارانو د زیار او کړاؤ په نتیجه کښې پښتانهٔ په زرګونو کاله زاړهٔ ثابت کړے شوي دي. دغه د زرګونو کالو زوړ تهذیب، تمدن او ثقافت د پېړو د چلېدو او استعمال نه پس

* چئېرمېن پښتو څانګه، اسلامیه کالج پوهنتون، پېښور

ډېر کوټلې او سپېڅلې صورت موندلې دے. دا خبره هم د غور وړ ده چې د پښتنو د لرغوني تاريخ او ثقافت نه د نړۍ ډېرو قامونو زده کړه کړې ده او د دوئ ځينې قدرونه ئې خپل کړي دي او د خپل ضروت مطابق ئې ورته په خپلو ژبو کښې نامې ورکړې دي لکه د پښتنو جرګه مرکه دنيا په څو څو رنګه قبوله کړې ده او ورله ئې خپل انداز ورکړے دے. دغه شان د پښتو مرکه دنيا د تاڼه تحصيل په رنګ کښې فراخه کړې او عملي کړې ده. جرګه د عدالتي نظام په صورت کښې خوره شوې ده او بيا ئې څانګې جوړې شوې دي او دغه رنګ لويه جرګه د "پارليمنټ" په شکل کښې دنيا پېژندلې ده. داسې به راشو تيږې له ،تيږه دنيا د "سيزفائر" په نامه بلي. ټولانا پښتانۀ چندې ته وائي. پښتانۀ تل د قامي مقصدونو د پاره ټولانه کوي. دغه ټکے د فيرنګي حکومت يا د پښتنو په دنيا کښې وطن په وطن د ګرځېدو سره د "ټول پلازه" په شکل کښې بدل شوے ښکاري. پښتانۀ ډېر جنګيالي يادېږي . "داړه" د پښتنو د جنګ کولو يو انداز دے چې کله په دشمن له يوې خوا حمله وشي او کله له بلې خوا چې دشمن د دوئ لږ طاقت هم په ډېر تعبير کړي. دې عمل ته پښتانۀ داړه وائي او نړۍ ورته "ګوريلا وار" وائي. دغه رنګ زمونږ ننواتې دنيا په "اپالوجي" نامه بللې ده او دغسې نورې ډېرې خبرې دي چې د پښتنو د تهذيب او ثقافت د زوړ والي او کوټلتيا ګواهي ورکوي لکه څادر ته وګورئ. دا يو څادر هسې خو د پښتون په اوږه قط شوے ښکاري خو د دغه څادر کمالونه وګورئ.

د يخنۍ او ګرمۍ نه د بچ کېدلو کار کوي. د قالين يا درۍ کار کوي. د توليې کار کوي. د سامان راوړلو په وخت بوجۍ ده. لټاکه پکښې وتړه او په شا ئې راواړوه. په باران او نمر کښې چهترۍ ده. د مونځ په وخت موصله ده. د اودۀ کېدو په وخت کمبل دے يا بالښت دے. څادر حيا ده، پرده ده، کفن دے او دغه شان بې شمېره خاصيتونه لري. دغسې که د حجرې مثال واخلو حجره د زلمو د لوبو ځائے هم دے. د مېلمنو د ناستې پاستې او اودۀ کېدو کار هم کوي. د غم ښادۍ مېلمانۀ عُذر کوي. د جرګې، مرکې کار هم کوي. يعنې په يو خت ګېسټ هاؤس، ډائينګ روم، شادي هال، جمنازيم، نېټ کېفے، پلے ګراونډ ،کميونټي سنټر، عدالت او د ځوانانو کور هم دے، د ژوند ژواک د زده کړې د پاره د مکتب کار هم ورکوي. د څادر نورې هم ډېرې څانګړتياوې شته. داسې د پښتنو د ژوند د نظام هر اړخ خپله خپله څانګړتيا او ښشپړتيا لري.

پښتانۀ د نورو قامونو نه تر ډېره حده مختلف او کوټلے ثقافت لري. د دوئ ژوند ژواک، رسمونه رواجونه او دود دستور بې حده ښکلے او سپېڅلے دے. د خپلو روايا تو امانتګر

پښتانهٔ په هر دور کښې د خپلو قدرونو سره تړلي پاتې دي. د یو ویشتمې پېړۍ د مادیت او ځان ځانۍ باوجود پښتانهٔ خپل اکثر قدرونه نن هم په سینه پورې تړلي ساتي او داسې ئې پالي چې د دې نه بغېر ورته ځان نیمګړے ښکاري.
حمزه شینواري د پښتو هغه تاریخ سازه شاعر دے چا چې د شاعرۍ ختـه د پښتو په خمیره داسې خمیره کړې ده چې تر ننه د هغه جوړ کړي اصطلاحات ،تشبیهات،علامتونه،اشارې او کنایې د پښتو غزل د ځانګړتیا او سپېڅلتیا علم برداري کوي.حمزه بابا د حجرې او جرګې، مېلمستیا ، ننګ او غېرت، ننواتې، لوظ، بدرګه، پت او دغه رنګه نور ډېرو پښتنو قدرونو خصلتونو، دود دستور او لارو چارو اماتنګر او تبلیغي دے. دوئ چې کله د نړۍ د نورو قامونو سره د خپل قام موازنه کوي نو د ګڼو ثبوتونو سره خپل قام د فطري، دیني او معاشرتي خاصیتونو او خوبیانو نه ډک ثابتوي.
د حمزه بابا د دغه قومیت او مقامیت په حقله پروفېسر داور خان داود لیکي:
"حمزه صېب چې د قومي او ملي اقدارو په وجه په پښتونخوا کښې کوم شهرت موندلے دے. هغه د یو شاعر هم تر اوسه نهٔ دے نصیب شوے. حمزه صېب په دې حقله د خپل دور خپلې زمانې نه ډېر وړاندې تلے دے. هم دا د خوشحال خټک د قومیت او ملیت تفکر او تخیل د حمزه صېب د رسا ذهن او ژور احساس یو دائمي اواز او افاقي انګازه ده. دا دائمیت او افاقیت د هغهٔ د فن د ارتقاء او جلالو ځلنده مثال دے.
د پښتنې عشق دا سندرې او د پښتنې مینې دا نغمې د دهٔ د شعر او په تېره تېره د غزل روح دے. دهٔ چې په دې عشق او دې مینه کښې د پښتون تهذیب، تمدن اوثقافت کومه عکاسي کړې ده. هغه لا تر اوسه چا په دې ډول نهٔ ده کړې"[2]
په دې حقله پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم لیکي:
"د حمزه د شاعرۍ نه که "پښتون تصوف" وویستے شي نو شاید چې د غزل ئې هغه خوند پاتې نهٔ شي کوم چې تر اوسه برقرار پاتې دے ځکه چې د هغهٔ تصوف په اصل کښې د پښتون ملت، پښتو ژبې او شعر و ادب د ښېګړې د پاره د غزل په جامه کښې یو مسلسل او بې بدله جهاد دے."[3]
د حمزه بابا د پښتنو قدرونو خپلولو ، په خپل شعر کښې د دوئ د روزنې او پالنې په حقله ملک جاوید لیکي:
"بابا چې کوم حقوق د خپل قام د پاره غواړي. هغه د نورو قومونو د پاره هم غواړي. لکه دا غواړي چې پښتون بچي ته دې په پښتو ژبه کښې تعلیم ورکړے شي. نو هم دغسې دا هم

غواړي چې پنجابي بچي ته پنجابۍ، سندهي بچي ته سندهۍ او بلوچ ته بلوچۍ کښې دې تعليم ورکړے شي. د بابا قوميت بيخي د تعصب نه پاک دے."[4]

حمزه بابا د خپل ثقافت، تاريخ، تهذيب او تمدن سره مينه هم لري.او په خپل کوټلي او سپېڅلي دود دستور باندې فخر هم کوي. د دې عظمت او لوړ والے ثابتوي. هم. د دغې تهذيب د بقاء او روزنې د پاره اولس ته نصيحت هم کوي او ورته وائي چې څنګه نور قامونه په خپل اصليت پېژندے شي دغه رنګ تهٔ هم خپل سوچه والے وپېژنه او د دې سره په دنيا کښې خپل شناخت پېدا کړه او د نورو قامونو سره سيالي هم وکړه. "د کابل سفر نامه" نومې نظم دغه يو بند په دې خبرو ګواهي لري:

مونږه چې تهذيب هم د اسلام هم د پښتون لرو
حېف دے چې بيا مونږ د مغربي تهذيب جنون لرو
مونږ د اسلامي تهذيب چې ځانته پوهنتون لرو
مونږ همه جهان لره طاقت د زړهٔ راښکون لرو
مونږ بغېر له سُوټ او بوټ له هېڅه پائيدلے شو
هم د ږيرې برېتو سره وړاندې لاړ کولے شو[5]

د حمزه صېب دغه بېداري او دُور اندېشي په شلمه پېړۍ کښې د بابا د پېژندګلۍ او د قام د لاړښودنې سَوب وګرځېده. ژبه د ثقافت د ملا تير ګڼلے شي. که مونږ د نړۍ په ټولو پر مخ تللو قامونو نظر واچوو نو دا خبره به په ډاګه شي چې د هغو د ترقۍ راز د هغو په خپله ژبه کښې تعليم او ترقي ده. کوم قامونه چې په خپله ژبه کښې سبق وائي، هغوئ د خپلو اتلانو، خپل تاريخ او خپلو قدرونو نه په ښهٔ ډول خبر وي او د خپل ثقافت په کرښه دننه د تربيت او تعليم د مرحلو نه تېر شي. د پښتو ژبې د عظمت او قدامت په حقله حمزه صېب ډېر ډاګيز خيالات لري. د دغه خيالاتو يوه ننداره ګورو:

خدائے زده چې څهٔ راز دے په بابا او په ماما کښې
وِرد وي د ماشوم دغه الفاظ په ابتداء کښې
هم په ابتداء کښې ئې په خُلهٔ باندې دادا وي
هم ئې کله کله په خبرو کښې کاکا وي
ښکاري راته دا چې فطرتي ژبه پښتو ده
ګويا د اول نه انساني ژبه پښتو ده

ژوند چې دے خپور شوے په اوږده او په ساره کښې
مخکښې ظاهر شوے په ماحول د پښتانۀ کښې

........................

زمکه ابتدا کښې لکه اور وه چورليدله
رو رو سړېدله پرې موده چې تېرېدله
مخکښې د هرڅۀ نه چې سوړ شوے ؤ پامير ؤ
زړۀ د پښتونخوا وۀ له هر ځائے ورته نسکير وۀ
بو يه چې له ژوند وي ابتدا له دغه ځايه
بيا نو خپور شوے په هر خواله دغه ځايه[6]

د پښتو د زوړ والي او خپور والي خبره هر ځائے کوي او اولس دې ته پاوري چې خپل ثقافت او خپله ژبه کلکه ونيسئ نو هاله به د نړۍ سره د سيالۍ جوګه شئ.
په بل يو ځائے کښې هم دغه خيال د نور وضاحت سره وړاندې کوي:

چې پښتو ئې محبوبه وي پښتون دا دے
چې همه ليلٰی شي مجنون دا دے
راشه پوئے دې چې په راز د مرګ او ژوند کړم
چې مړۀ نۀ شي خپله ژبه ژوندون دا دے[7]

بل ځائے کښې ليکي مطلب ئې دا دے چې که ځې ځې نو ابازو له به راځې. تۀ که ډېر د خپلې ژبې نه وتښتې خو د تېښتې لاره دې نشته:

تۀ انګريزي وائې که تۀ بهاشا وا ئې
خوښه دې خپله هغه که دا وائې
خوچې رنځور شې نو په پښتو کښې
وئ زما مورې او وئ بابا وائې[8]

د علم او زده کړې د پاره د خپلې ژبې نه علاوه نورې ژبې نۀ ګڼي:

رښتيا دے سياست خو ژوند ضرور غواړي
ليکن دوئ د پاره بيل شعور غواړي
تر څو چې خپله ژبه نۀ وي نشته شعور

حالات در ځینې نن د علم نُور غواړي[9]

د ډېرو ناوړه حالاتو او د پښتو ژبې خلاف د پروپېګنډې او د ناپوهه ناخبره پښتنو د بې غورۍ د لاسه جذباتي لیک ئې هم د کتو دے:

ملګري زما وائي لېونے یمه زۀ
دا خپل زړۀ راته وائي مېړنے یمه زۀ
حالات مې که لاس نیسي خو پښتو لیکمه
سوزېږم خو ګډېږم سپېلنے یمه زۀ[10]

هر قام درنه په علم کښې اوچت تلے دے
په پوهه په شعور او په دولت تلے دے
تا ولې خپله ژبه خپل ادب پرېښود
نن ستا نه حقیقت د سیاست تلے دے[11]

پردۍ ژبه په خپله خُلۀ کښې څۀ ښکاري
وېنا د بل په ژبه خو ښۀ نۀ ښکاري
په خپله خُلۀ پردۍ ژبه د بل خبرې
لږ فکر وکړه بد اوکۀ ښۀ ښکاري[12]

غلیم ته په ګیله من انداز کښې د ژبې په حقله شکایت کوي:

ورځه وهه وهه نوره دنیا په بډه
لیمۀ وهلي نۀ دي اشنا ما په بډه
پښتو ته دې که ژبه د دوزخ ووئیل
ظالمه وهې ولې پښتونخوا په بډه[13]

حمزه صیب همېشه د خپلې ژبې وکالت کړے دے او هم دغه وجه ده چې ژبې هم دۀ له ډېر درناوے ورکړے دے. د تعلیم د پاره د خپلې ژبې د اهمیت د پاره د درس او تدریس د اُصولو مطابق منطقي وضاحت کوي:

بویه چې تعلیم ئې وي اول په خپله ژبه
ځکه چې تعلیم خو وي افضل په خپله ژبه

ذهن مکدر کا چې لفظونه اجنبي وي
خُلۀ خو ئې وي خپله ولې ژبه د پردي وي
جوړه ئې ذهني د مورنۍ ژبې سانحه وي
بله ژبه راشي نامعلومه بې معنه وي
یو ئې د پردۍ ژبې لفظونه یادول وي
بیا ئې په معنو هم د لفظونو پوهېدل وي
بس خو پرېشان ئې دا ذهني ردِ عمل کا
تنبتي له تحصیله یو خوا بل خوا ترېنه زغل کا[14]

او چې کله هم د خپل زلمي کهُول بې لارې توب ووینې نو د خپلې ژبې لوري ته ورله لاره سموي:

یو سوال درته کوومه اے زلمو
ملت د پښتانۀ کښې مېړنو زلمو
دا غږ د مستقبل دے د حمزه په ژبه
ژوندے کړئ خپل ادب خپله پښتو حلمو[15]

او عام اولس ته د بېدارۍ دا رنګه غږ کوي:

چې پرې نۀ وځي په ښکته پښتنو پښتو
کړئ جګه تر اسمانه مېړنو پښتو
کړئ سُر داسې تارونه د ملت د رباب
چې هره پرده غږ کړي چې پښتو پښتو[16]

حجره او جرګه:

د پښتونولۍ د قدرونو د ضرورت، اهمیت او ارزښت په باب د حمزه صیب شاعري برجقه پرته ده. دے د زلمو د اخلاقي تربیت سره سره روحاني تربیت هم کول غواړي او د یو پښتون زلمي د پاره حجره او جرګه ډېره غوره ګڼي.

زړۀ دے که حجره د پښتنو زما
ښومره چې ډېرېږي مېلمانۀ ګوري[17]

زړۀ مې احترام کا د هر ښکلي چې خفه نۀ شي
ځۀ به کړي پښتون چې ئې حجرې وته مېلمه راشي[18]

پښتون اشنا دې حجره بند کړي د خپلې ښکلا
غوټه جبين شي لکه شوم چې مېلمانۀ ووينې[19]

نوې حجره د مينې جوړه شوله
اوس د دردونو مېلمانۀ راولم

جمع کووم به پخواني يادونه
ورله جرګه زاړۀ زاړۀ راولم[20]
ګرانه زړۀ زما حجره د پښتنو ده
چې هيڅ وخت نۀ وي خالي د مېلمنو نه[21]

حمزه اشنا مې نۀ پښتو کړي نۀ پښتو پرېږدي
ببرته زما مرور شي چې جرګې جوړې شي[22]

خبر دے حمزه خبر دے که جرګه ئې راواپس کړه
وي ئې کله خوئ د پښتنانۀ نه مختلف[23]

ما پښتو د پښتنې سره کړه غوره
له مېنځ لارې ئې جرګې راواړولې[24]

ګوره په خپله به پخلا شو سره
نۀ دي دا نۀ دي د جرګو خبرې[25]

نشته تصور دې زما اوښکې تشې لاړې
ځۀ هغه جرګه چې نۀ ئې سرۀ نه ئې قائد وي[26]
تا ته خو سپين روبي د حمزه له خوا
درغلۀ جرګه خو راستانۀ دې کړۀ[27]

راوړے له فطرته دي مزاج د جمهور
پښتو کړه جرګې د پښتنو مۀ هېروه[28]

نن د تيټو سترګو ارمانونو مې
ستا په پښتنو سترګو جرګه وکړه[29]

واستولې ما درته جرګې چې نۀ راتلې
بل علاج مې څۀ ؤ پښتنې چې نۀ راتلې[30]

ننواتې:
ننواتې د پښتنو يو ډېر ځانګړے دود دے. کله چې يو ظالم په دې خبره ورسي چې مظلوم د دۀ د لاسه بد ګزار خوړلے دے. دے د پښېمانۍ او معافۍ په شريکو کيفيتونو کښې اخته وي. د ننواتې کولو ډېرې طريقې دي خو مقصد ئې په يو رنګ کښې په خپل کار پښېمانه کېدل او معافي غوښتل دي. ننواتې کوونکے په ډېره پښېمانۍ د خپل مخالف کور ته ورځي او په مخالف باندې دا لازمه وي چې دے به خامخا دغه ننواتې قبلوي. که چرې ننواتې کوونکے د دۀ د سر قاتل هم وي. زۀ نۀ ګنم چې داسې به چرې شوي وي چې ننواتې به د بې ارزۍ په حال کښې ستنه شوې وي او که چرې خال خال داسې و هم شي نو مشران مظلوم ته نصيحت وکړي او دې ته ئې تيار کړي چې که په دويم ځل ننواتې راغله نو خامخا ئې قبوله کړه او ننواتې کوونکے بيا ننواتې ته را وپاروي:

چې ننواتې قبوله نۀ شوه
اوس څۀ جرګې شوې څۀ مرکې شوې[31]

اوښکې پښتنې مې راغلې ستا په ننواتې
څۀ به کړي پښتو ده د رقيب سره سيالۍ دي[32]

ښۀ ده چې خوئ د ننواتې کوي
حمزه نور اوښکو پښتنو کښې څۀ دي[33]

اوس خو دا غشي د ښو دي راته مۀ ګرتوه
په ننواتې زما اوښکې پښتنې راځي[34]

پښتون اشنا چې ننواتې غواړي
سترګو ته اوښکې پښتنې راشي[35]

مېلمانهٔ/مېلمستیا:

مېلمه پالنه د پښتو او اسلام یو شریک دود دے. د اسلام راتلو نه وړاندې هم وئیلے شي چې په پښتنو کښې دا قدر موجود وو. په دې حقله ګڼ شمېر متلونه هم شته او ټپې هم خو نن زمونږه موضوع د حمزه صېب په شاعرۍ کښې دغه قدر لټول دي چې حمزه صېب ترې نه په فکري او فني دواړو رنګو کښې نهٔ یواځې پخپله خوند اخستے دے بلکې ټول لوستونکي ترې نه خوند اخستے شي:

لا د زړهٔ حجره کښې مې پښتو کور ښهٔ ښکاري
وي که تنګدستي هم مېلمنو ته خوشحالېږم[36]

مهٔ ګرځوه سترګې د مېلمه نظر
ګوره حجرې بېرته پښتانهٔ ساتي[37]

یو ځل خو په ډول د مېلمه راپېښه وکړه
بیا خو راته ګوره زهٔ مېلمه تا به کوربه کړم[38]

تا چې نن مېلمه ته بُوټې تند ے پښتنې ونیوو
څو چې زهٔ ژوند ے یم نور به څهٔ راته یادېږي[39]

سترګې پښتنې دې ولجه ونهٔ کړي
پربږده دامېئن چې مېلمانهٔ دې کړه[40]

خوئ د مغل چې کړې د زړونو سره
پښتنې حق د مېلمنو نشته[41]

ګرانه زړهٔ زما حجره د پښتنو ده

چې هیڅ وخت نهٔ وي خالي دمېلمنو نه[42]

لوظ ، وعده، ژبه:

د پښتون د کردار یوه لویه خوبي خپله وعده سر ته رسوَل دي. اسلام هم په دې حقله ځائے په ځائے ډېر ښکاره وئیلي دي چې وعده خامخا پوره کوئ دقیامت په ورځ به د وعدې تپوس کیږي. دا هم وئیلي شوي دي چې بې وعدې سړے بې دینه وي. د اسلام او پښتو دا شریک قدر حمزه صیب نهٔ صرف قدرولے دے بلکې د دروند پښتون او غوره انسان د کردار برخه ئې ګرځولے دے. دلته ئې د تغزل په نمونو کښې لټولے شئ:

دا څنګه بې وفا شوې پښتنې پس له وعدې
پېغور هم تیتې نهٔ کړلې انګرېزې سترګې ستا[43]
ژبه چې نهٔ ساتي پښتون بده ده
چې ساتي ژبه څومره ښهٔ ښکاري[44]

بله نېټه ئې بیا راته کېښوه
پښتون اشنا مې کلک په وعده ؤ[45]

درته ځیر نهٔ ګورم بې لوظه اشنا
چې پښتونواله دې خجل نهٔ کړي
دې ته به څهٔ وایو بې لوظه تهٔ یې
له شرمه زهٔ درته کتلے نهٔ شمه[46]

هغه لوظونه نا پوره راسره
د ښکلې یار د بدر ګو سره ځم[47]

غږ د پښتو د پښتنو اورم
ژبه یوه شوه د زلمو اورم
وعده دې کلکه غوندې ښکاري راته
نن دې خبره د پښتو اورم[48]

اوس ژبې په پردو ژبو کښې کیږي ژبې چرته

پښتو شوله زړه د پښتنو شوې نورې ژبې[49]

پت:

پت پالل د پښتون کردار برخه ده. بې پته خلقو ته پښتانۀ سپک ګوري او پتمنو خلقو له درناوے ورکوي. د پښتونولۍ د قانون مطابق چې په یو تن د چاپېرچل له اړخه کومې ذمه وارۍ راځي هغه په ډاډه توګه هغه ټولې ذمه وارۍ ترسره کړي نو دغه د پت پاللو یو رنګ دے. په دې حقله زمونږه کلاسیکي شاعري ډېر ښائسته شعرونه لري خو دلته د کلاسیک په دغه یو رنګ قناعت کوو:

څۀ شي که یار کړې ورته سترګې پیرنګۍ بدلې
سپین دې خپل سرکړه پښتنې مینې د پت د پاره[50]

بې پته اوس که راته ښو ګورې په مړو سترګو
زړۀ د پښتون یمه واپس به راژوندے نۀ شمه
زۀ ننګیالے یم د تا په بې پتۍ مې څۀ شي
یمه پښتون له خپله هوډه اوړېدے نۀ شمه[51]

په پښتانۀ کښې بې لوظي د بې پتۍ نخښه ده
قاصده داسې ورته وایه که دې بیا ولیدو[52]

ما ته اشنا د بې پتۍ ولې پېغور کوې
لا خو تعلق د زړۀ مې شته دے د پښتو سره[53]

زۀ ننګیالے یمه د تا په بې پتۍ مې څۀ شي
یمه پښتون له خپله هوډه اوړېدلے نۀ شم[54]

ننګ او غېرت:

د پښتون د نوم سره ننګ او غېرت تړلے دے. ننګ او غېرت دا نۀ دے چې ښوک وژل او وهل کولے شي. د بده مرغه دا ټکے په اردو او انګرېزۍ کښې د غلطې ترجمې د وجهې د غلطو معنو ښکار شوے دے. که چرې مونږ د اردو مثال واخلو نو د ننګیالي او غېرت مند د پاره د غیور ټکے استعمالیږي. دغه ټکے چې بېرته په پښتو کښې ترجمه شي نو بیا

ترې ننګيالے او غېرتي نۀ جوړيږي. که چرې په انګرېزۍ ئې وژباړو نو د غېرت او ننګ د پاره Honour ټکے استعماليږي چې ښېرته ئې پښتو ته راژباړو نو بيا Honour په هېڅ حال د غېرت او ننګ معنې نۀ ورکوي. زما مطلب دا دے چې ننګ او غېرت داسې شے دے چې يو پښتون په خپل ناموس په خپل کور، په خپله کوروداني، خپل خاندان، خپل کلي، خپل دين، خپل وطن عن تر دې چې په خپل ساتلي څناور ټينګ ودريږي او د سر او ناموس حفاظت ئې وکړي. په دې باب د حمزه صېب د لاندينو لوستو نه پس د ننګ او غېرت هر اړخيز جاج اخستے کېدے شي:

چې د بل د کس د حُورې هم وي پرې نظر پرېوتے
رضوانه داسې حُوره څۀ کړه پښتون يمه زۀ[55]

شډلې سختې د وقار او له مېړانې ډکې
د پښتنې له ژبې خوند کړي پښتنې خبرې[56]
غېرتي زما ارمان شو
چې پښتون شو مسلمان شو[57]

دا به وي دروغ چې له اسلامه ئې مخ ستون کړلو
څوک چې په رښتيا د پښتانۀ غيور له کُوله شو[58]

دا غېرت هم دے يواځې ژبه نۀ ده
خدائے دې تُورې وته شرنګ او ځلا ورکړه
دا زړه ده خو همت ئې لا زلمے دے
ده ژوندۍ که څو حالاتو فنا ورکړه[59]

څو چې فعال وو هومره اوس شل دي
پښتانۀ ګورم څومره بدل دي
اوس ئې نو ويره له پېغور څۀ ده
چې نن ئې ډېره بربتو نه کل دي[60]

پښتون ته د اسلام نامه غېرت راولي
بيا دوئ کښې اتفاق او برکت راولي[61]

پښتنه مینه مې شریک نهٔ مني
کوه د ننګ او د غېرت خبرې[62]
پښتون که ساز وي نو په دې غل شي
وخت د سیالۍ کښې چې د غېرو مل شي
اپیل ئې وکړئ قامي غېرت ته
دا مسئله که هم په دې حل شي[63]

ننګ د زمانې چې پښتون یار ته کړمه وړاندې
بل طرف ته مخ مې په پېغور وګرځوي[64]

ځلانده دوه اړخونه دي زما د کامیابۍ
غېرت مې مسلمان دے او جذبه مې پښتنه ده[65]
مینه کښې هم چې ننګیالے وي د پښتو نه وي ډک
څو که د ښکلو هر انداز د زړهٔ راښکو نه وي ډک [66]

بدرګه:

بدرګه د پښتنو د ژوند د قانون یو داسې ګټور او ځانګړے رنګ دے چې د نورو قامونو سره شاید چې په دومره ښائسته ډول موجود نهٔ وي. بدرګه د خپل مېلمه د خپل کلي د حدونو او بریدونو نه په حفاظت ویستل او د هغهٔ عزت ، صحت او مال د سلامت ساتلو یقین دهاني ورکول. بدرګه د ځوانانو یوه ډله وي چې د مشرانو په وېنا رخصتېدونکي مېلمانهٔ د خپل کلي د حدونو نه په خېر خېریت بهر ته رسول وي. حمزه صېب د بدرګې دغه انداز د رنګ په رنګ تغزل نه ډک کړے دے. لاندیني مثالونه به بدرګه د هر اړخ نه څرګنده او واضحه کړي:

د پښتنې مینې به څهٔ وایمه
بې بدرګې او بې رېباره ګرځي[67]

رسم به که یون کووم په هره قافله کښې
ځمه ښکلیه ستا د تصور په بدرګه کښې[68]

ستا له لېونتوبه عشقه پاتې یم تالا شوم
هر څو که پند مې وکړو د شعور په بدرګه کښې[69]

ستا بدرګه د تصور رانه جدا شوه اشنا
ځکه خو زهٔ په نیمه لار کښې د سفر پرېوتم[70]

ښکلیه قافله دې د سینګار چرته لوټ نهٔ شوه
تل چې ورسره ده بدرګه د آئینې[71]

ما وې بدرګه به د شوکمارو چارې نهٔ کا
ستا ساده نظر ؤ چې ما زړهٔ ورسره مل کړو[72]

ګېر مې شو کاروان د وسوسو په غلچکو کښې
پوئے دې تصور کړه بدرګې راولېږه[73]

لنډه دا چې د شورو نه واخله تر حمزه بابا پورې د خپل ثقافت ، دود دستور او روایاتو ترجمان شاعر نهٔ دے تېر شوے. تر شلمې پېړۍ د پښتو شاعرې عموماً او پښتو غزل خصوصاً د عربۍ او خاصکر د فارسۍ د اصطلاحاتو، ترکیبونو او لغاتو پوره پوره په اثر کښې وو. حمزه صېب خپل غزل د غېرو تهذیبونو د اثر نه بیخي پاک کړو. خپل ترکیبونه او اصطلاحات ئې وضع کړل عن تر دې چې نوې نوې لغات ئې متعارف کړل. د خپل چاپېرچل او خپل ژوند ژواک کړهٔ وړهٔ ئې د غزل کړهٔ وړهٔ کړل. څهٔ رنګه چې په دنیا کښې د پښتنو په رنګ د ژوند په خوږو مورې او د ژوند ژواک په رنګونو پوره قوم نشته دومره بشپړ او کوټلے تهذیب او تمدن بل څوک نهٔ لري. د حمزه صېب دغه ډاډه هڅې حمزه صېب له ځانګړتیا ورکړه. څهٔ رنګه چې د پښتنو غونډې بل قام د نړۍ په مخ نشته دغه رنګ د حمزه بابا پورې د پښتو بل شاعر هم د حمزه په رنګ نشته. د پښتون تهذیب ځانګړتیا حمزه بابا ته هم ځانګړتیا ور وبخښله او دا زمونږه ډېره لویه خوش بختي ده چې مونږ د حمزه په پېړۍ ساه اخلو.

حوالې او حاشیې

[1] پوهاند صدیق الله رښتین، پښتنے لاربنود ، یونیورسټي بُک ایجنسي، مارچ ۲۰۰۰ء ص ۷ – ۲۲؛ حکیم زئے بدرالحکیم، پښتونولي، عظیم قوم کی عظیم ثقافت، اشاعت دوم، مارچ ۲۰۰۹ء، افغان نیشنل پارټي، شعبه نشر و اشاعت، ص ۳ – ۱۳.

[2] داور خان داؤد ، پروفیسر، حمزه شنواري نمبر (مئ، جون ۱۹۸۲ء، پښتو مجله، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، مخ ۹۵، ۹۶.

[3] شنواري، امیر حمزه ،دَ یار محمد مغموم خټک مقدمه، بهیر، داد محمد دلسوز، ۱۹۸۳، ص ۶

[4] ملک جاوېد ، د حمزه شنواري نمبر، مئ جون ۱۹۸۲ء، پښتو مجله، پښتو اکېډمي، ص ۱۴۵.

[5] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه *شنواري کلیات V*،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۷ء، ص۸۳۶.

[6] همدغه اثر، ص ۲۹۱

[7] همدغه اثر، ص ۲۱۱

[8] همدغه اثر، ص ۱۳۴

[9] همدغه اثر، ص ۵۶

[10] همدغه اثر، ص ۸۴

[11] همدغه اثر، ص ۵۶

[12] همدغه اثر، ص ۳۸۸

[13] همدغه اثر، ص ۷۳

[14] همدغه اثر، ص ۳۱۷

[15] همدغه اثر، ص ۲۸۷

[16] همدغه اثر، ص ۲۸۷

[17] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه *شنواري کلیات II*،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۳ء، ص ۴۵۵.

[18] همدغه اثر ، ص ۴۹۷.

[19] همدغه اثر ، ص ۳۹۸.

[20] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه *شنواري کلیات III*،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۴ء، ص ۴۵۳.

[21] همدغه اثر، ۴۵۳

[22] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه کلیات II ، ص ۴۵۴.

[23] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه کلیات III ، ص ۱۴.

[24] همدغه اثر، ص ۱۹۳

[25] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه کلیات II ، ص ۲۴۸.

[26] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه کلیات III ، ص ۲۳۶.

[27] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه کلیات II ، ص ۴۲۲ - ۴۴۳.

[28] همدغه اثر، ص ۵۸۷

[29] شنواري، امیر حمزه، دَ حمزه *شنواري کلیات IV*،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۷ء، ص ۱۶۷

30 30 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۱۹۴

31 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات IV ، ص ۲۹۸.

32 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه *شنواري كليات I*، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون، ۱۹۹۳ء، ص ۵۰۰

33 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۱۹۱.

34 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۱۹۰.

35 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۳۰۵.

36 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۲۲۸.

37 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۴۲۷.

38 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات I ، ص ۴۴۳.

39 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۴۵۵ - ۴۵۶.

40 همدغه اثر، ص ۴۴۲.

41 همدغه اثر، ص ۱۱۳.

42 همدغه اثر، ص ۴۵۳

43 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات I ، ص ۵۷۰.

44 همدغه اثر، ص ۵۰۵.

45 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۳۹۴.

46 همدغه اثر، ص ۳۷۷

47 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۲۷.

48 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات I ، ص ۴۵۴.

49 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۸۱.

50 همدغه اثر، ص ۸۹

51 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۵۰۴ - ۵۰۵.

52 شنواري، امير حمزه ، كليات III، ص۲۵

53 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات V ، ص ۳۰۸.

54 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات V ، ص۳۰۸

55 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص۴۲۴.

56 همدغه اثر، ص ۴۲۷

57 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۳۳۹.

58 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات IV ، ص ۱۲۴.

59 شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات V ، ص ۲۰۱.

60 همدغه داثر ، ص ۱۳۴.

61 همدغه اثر، ص ۲۷

[62] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۲۰.
[63] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات V ، ص ۱۳۸.
[64] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II، ص ۲۷۳.
[65] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۳۸۱.
[66] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۴۰۹.
[67] همدغه اثر، ص ۱۲۱
[68] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات II ، ص ۲۷۱.
[69] همدغه اثر، ص ۲۹۹
[70] همدغه اثر، ص ۴۳۰
[71] همدغه اثر، ص ۴۸۵
[72] شنواري، امير حمزه، دَ حمزه كليات III ، ص ۲۱۰.
[73] همدغه اثر، ۳۳۳.